# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۱٤مه | د ۲۰۱۸ د نومبر پنځمه | دویم کال| ۲۷۹مه گڼه


## هېواد

۴ مخ

### روانډا

د دغه هېواد ۹۰ سلنه خلک د کرنې په سکتور کې په کار بوخت دي او د هېواد ۳۴ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکتور څخه لاسته راځي.



## د ټاکنو خپلواک کمېسیون مرکزي ډېټابېس ته د بایومېټریک ډېټا لېږد پیل کړ



۳

## نړیوال بانک له افغانستان سره ۷۵ میلیونه ډالره مرسته کوي




د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت وایي، نړیوال پراختیایي بانک په افغانستان کې د باغدارۍ د ودې او پراختیا لپاره له دغه هېواد سره ۷۵ میلیونه ډالره مرسته کوي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته وویل چې دغه پیسې به د باغ لرونکو او کروندگرو د پیاوړتیا، د غلو دانو د تولید د زیاتوالي او د زراعتي متشبثینو د ملاتړ په برخه کې ولگول شي.

رستمي وایي، د نړیوال پراختیایي بانک د دغو مرستو په لگولو سره به زراعتي تولیدات زیات او ورسره به د خلکو په اقتصاد کې هم د پام وړ بدلون راشي.

د ده په خبره، دا چې افغانستان یو زراعتي هېواد دی، نو دا شان مرستې کولای شي چې د خلکو په ژوند او د کرنیزو تولیداتو د کچې په لوړولو کې د پام وړ رول ولوبوي.

### د مسکو غونډه کېږي، خو څه ډول؟

۲ مخ

### د ټاکنو کمېسیون ولس ته په خوله کې شات، خو ډوډۍ کې زهر واچول

۲ مخ

### چکري مناره

۳ مخ

## چین او پاکستان د افغانانو په مشرۍ د سولې له پروسې ملاتړ کوي

پاکستان او چین د افغانستان پر موضوع د همکاریو پر پراختیا او د افغانستان په مشرۍ او رهبرۍ د سولې د پروسې پر ملاتړ ټینگار کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان صدراعظم عمران خان دا مهال د یوه پلاوي په ملتیا پر دوه اړخیزو او سیمه ییزو مسایلو د خبرو لپاره د چین په ۴ ورځني سفر دی.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د عمران خان او د چین د ولسمشر ترمنځ تر لیدنې وروسته په خپرې کړې گډې اعلامیې کې ویلي چې د پاکستان او چین مشرانو پر دوه اړخیزو اړیکو سربېره د سیمې، منځني ختیځ او نړۍ پر مسایلو هم خبرې کړې او په سیمه کې یې سوله او ثبات د ټولو په گټه بللي دي.

د چین او پاکستان مشران د افغانستان پر موضوع د همکاریو پر پیاوړي کولو سلا شوي او د افغانانو په مشرۍ او رهبرۍ یې د سولې له پروسې ملاتړ ښودلی.

چین همدا شان د افغانستان او پاکستان د گډ پلان «APAPPS» له مخې د پاکستان او افغانستان نږدې اړیکې ستایلې او د درې اړخیزو امنیتي، پرمختیایي او خپلمنځي اړیکو د پراختیا او په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره د پاکستان، افغانستان او چین د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه د لیدنو کتنو د لړۍ د جاري ساتلو هیله یې ښودلې ده.

## طالبان دي د سمیع الحق له وژل کېدو عبرت واخلي



۵ مخ

## اسپانیا نیروهایش در افغانستان را افزایش می‌دهد



گبریل فیران، سفیر جدید کشور شاهی اسپانیا در کابل از افزایش سربازان کشورش در چارچوب مأموریت حمایت قاطع در افغانستان خبر داده است.


آقای فیران در دیدار با طارق‌شاه بهرامی، وزیر دفاع کشور در مقر این وزارت در کابل گفته است که اسپانیا در حال حاضر ۹۵ سرباز در چارچوب مأموریت حمایت قاطع در افغانستان دارد که در راستای مشوره‌دهی و آموزش افسران اردو و پولیس ملی این کشور کار می کنند.

در اعلامیه‌ی وزارت دفاع به نقل از سفیر جدید کشور شاهی اسپانیا آمده است: «اسپانیا فعلاً ۹۵ سرباز در چوکات مأموریت حمایت قاطع در افغانستان دارد که در قسمت مشوره‌دهی و تعلیم و تربیه‌ی افسران اردوی ملی و پولیس ملی یکجا کار می‌نمایند، در نظر داریم تا تعداد عساکر اسپانیایی را که در چوکات مأموریت حمایت قاطع در افغانستان حضور دارند، افزایش دهیم.»

به گفته‌ی او، اسپانیا سالانه کورس‌های عالی مطالعات استراتیژیک را برای اردو و پولیس ملی افغانستان آماده می کند که تاکنون ۱۱ دوره‌ی این کورس به پایان رسیده است.

سفیر جدید کشور شاهی اسپانیا همچنان پیروزی نیروهای امنیتی افغان در تأمین امنیت انتخابات پارلمانی این کشور را تبریک گفته و تأکید کرده است که کشورش به همکاری‌های دوامدارش به افغانستان متعهد است.

در همین حال، طارق‌شاه بهرامی، وزیر دفاع کشور ضمن تبریکی به سفیر جدید کشور شاهی اسپانیا از همکاری‌های اسپانیا در راستای مشوره‌دهی و آموزش نظامیان افغان تشکر کرده است.

# د ټاکنو کمېسیون ولس ته په خوله کې شات، خو ډوډۍ کې زهر واچول

زیارمل حمیدي

د ولسي جرګې ټاکنې په داسې وخت کې ترسره شوې چې د هېواد سیاسي، اقتصادي او امنیتي وضعیت د تېرو ټاکنیزو بهیرونو په پرتله ډېر ترینګلی او د اندېښنې وړ و. خو دا ټاکنې بیا هم په خپل وخت د ټولو هغو اندېښنو او بې باوریو خلاف ترسره شوې چې د دغو ټاکنو پر خپل وخت نه ترسره کېدو په اړه موجود وو.

د میزان په ۲۸مه میلیونونو افغانانو یو ځل بیا په پوره مېړانې او سربښندنې د سختو امنیتي ګواښونو او ناخوالو سربېره بیا هم په ډېره مینه د هېواد د ښې راتلونکې او پرمختګ په هیله د ولسي جرګې د ټاکنو د رایې اچونې په پړاو کې برخه واخیسته، څو راتلونکې ولسي جرګې ته د خپلې خوښې وړ استازي ور ولېږي. په دې ترینګلو حالاتو کې د رایې اچونې مرکزونو ته په دومره لویه کچه د خلکو ورتګ دا څرګندوي چې افغانان ولسواکۍ ته ژمن دي او د خپل مدني حق څخه په ګټه اخیستنې خپل برخلیک خپله ټاکي.

د افغان امنیتي ځواکونو مېړانه او سربښندنه د ستاینې وړ ده چې په لومړي ځل یې د بهرنیو ځواکونو له مرستې پرته د ټاکنو امنیت او خوندیتوب درونډ بار ته اوږه ورکړه او د مخکنیو ټاکنو په پرتله یې د ټاکنو د بهیر امنیت په ښه توګه وساته. د دوی دا وړتیا موږ ته د دې ډاډ راکوي چې زمونږ تکیه پر بهرنیو ځواکونو ورځ تر بلې کمېږي او خپل مېړني ځواکونه مو د دې وړتیا لري چې هېوادوالو ته په ملي پروسو کې د ګډون لپاره د امن فضا رامنځته کړي.

د لومړي ځل لپاره په هېواد کې په ټاکنو کې د رایه ورکوونکو له لېستونو او بایومېټریک سیسټم څخه ګټه واخستل شوه، که څه هم په دې برخو کې یو څه ستونزې وې، خو بیا هم که د راتلونکو ټاکنو لپاره پکې اصلاحات راشي او نیمګړتیاوې یې له منځه ولاړې شي، نو د پاکو او رڼو ټاکنو په ترسره کولو کې به ډېره مرسته وکړي او تر ډېره به د درغلیو او ناپاکو رایو مخه ونیسي.

خو پر دې ټولو ښېګڼو سربېره د ټاکنو بهیر ګڼې نیمګړتیاوې هم درلودې، لکه: په ډېرو سیمو کې د رایې اچونې مرکزونه د ژمنه شوي وخت (سهار۷ بجو) پرځای ناوخته او په ځینو سیمو کې ان غرمه مهال پرانیستل شول او په ځینو ځایو کې خو په دویمه ورځ ټاکنې وشوې.

د بایو مېټریک سیسټم په ډېرو مرکزونو کې یا خراب و او یا یې د ټاکنو کارمندان په سمه کارونه نه پوهېدل او یا هم په لوی لاس ځینو مامورینو د مشخصو نوماندانو په ګټې خراب کړی و، چې دا ستونزې د رایه ورکونې د ځنډ او زیات وخت نیولو سبب شوې او حتی په ځینو مرکزونو کې پرته له بایومېټریک رایه اچونه وشوه چې له درغلیو خالي نه وې او په ټاکنو یې د خلکو شکونه را پیدا کړل.

د رایه ورکونې په یو شمېر مرکزونو کې د ثبت شویو رایه ورکوونکو د نوملیکنې کتابچې ورکې وې چې دا ستونزه له مرکزه نیولې ان په ولایتونو کې هم وه. ځینو زورواکو د رایې اچونې په مرکزونو کې ګډوډۍ جوړولې او د ټاکنو کمېسیون کارکوونکي یې ګواښل او خلک یې د زور او یا پیسو له لارې مجبورول چې دوی ته رایه ورکړي. د دې خبرې ثبوت او کره والی د رسنیو په راپورونو کې هم موجود دی.

د دې ستونزو او نیمګړتیاوو ترټولو ډېر مسوولیت د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته ورګرځي، ځکه خلک د ټولو ګواښونو او ستونزو سربېره په ډېره مینه له کورونو راووتل او د ټاکنو مرکزونو ته ولاړل، خو د ټاکنو کمېسیون د خپل کمزوري مدیریت له امله د خلکو له احساساتو سره لوبې وکړې او دوی ونه شو کړای چې د ټاکنو د رایې اچونې پړاو سم مدیریت کړي او په ټاکنو د خلکو له منځه تللی باور یو ځل بیا را ژوندی کړي.

اوس که د ټاکنو د رایې اچونې پر بهیر باندې شوې شکایتونه په سمه او شفافه توګه ونه څېړل شي او پایلې یې له ولس سره شریکې نه شي، نو خدای مه کړه په هېواد کې به یوه نوې کړکېچ ته لاره جوړه شي او مسوولیت به یې د ټاکنیزو کمېسینونو پر غاړه وي.

نو هیله دا ده چې ټاکنیز کمېسیونونه تر خپلې وسې د څارونکو او نوماندانو له خوا د رایې اچونې په پړاو کې د ثبت شویو شکایتونو په هکله دقیقه څېړنه وکړي او پایلې یې له ولس سره شریکې کړي او پاکې او ناپاکې رایې سره جلا کړي، څو راتلونکې ولسي جرګې ته مستحق او وړ استازي د خلکو د پاکو رایو په پایله کې لار پیدا کړي.

ټاکنیزو کمېسیونونو ته پکار ده څو له دې ټاکنو درس واخلي او د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره سر له اوسه تیاری ونیسي او هغه نیمګړتیاوې چې په دې ټاکنو کې رامنځته شوې، له منځه یوسي.

زمو خلک له نږدې ۴۰ کلونو راهیسې وژل کېږي. دا وژنې عموماً د واک د ترلاسه کولو په سیالیو کې روانې دي. دې خونړیو سیالیو وطن لولپه کړ او خلک یې تباه کړل. ولس له همدې حالت څخه د وتلو هیله لري. دا هیله ورته د زور په ځای په مدني لارو د واک ترلاسه کولو پروسه ښکاري او دا پروسه ټاکنې دي.

خلک ملامت نه دي. خلک د همدې پاک ارمان لپاره رایه ورکوي او په دې تمه وي چې له ارمانونو سره به یې خیانت نه کېږي او نماینده ګان به یې د وضعیت د بهبود لپاره له خپلې قانوني مجرا کار اخلي. پر حکومت به فشار راوړي او د خلکو د ژوند بهبود ته به لومړیتوب ورکوي.

موږ په تېرو نږدې دوو لسیزو کې د ولسمشرۍ لپاره درې ځلې ټاکنې تجربه کړې. په لومړي او دویم ځل کې حامد کرزي واک ترلاسه کړ او دریېم ځل محمد اشرف غني.

دغه شان موږ له ۱۳۸۴ لمریز کال راهیسې تر اوسه څو ځلې د ولسي جرګې او ولایتي شورا انتخابات تجربه کړل او ولس په کې د سر په قېمت رایه ورکړه. که څه هم ولس خپلو ارمانونو ته نه دی رسېدلی او په کوم نیت یې چې رایه کارولې وه، هغه نه دی پوره شوی؛ خو بیا هم د یو ستر ارمان لپاره ګواښونو ته غاړه ورکوي او ښېشکه دا ارمان د یوې قانونمندې او سوکاله ټولنې جوړول دي.

بریالي کاندیدان (ولسمشرۍ، ولسي جرګې او ولایتي شورا) د ولس له قربانیو خبر دي؛ خو ځینو ته یې ولس یوازې د کمپاین په ورځو کې مهم وي او بس. دوی ونه شوای کولای چې د هغوی ارمانونه پوره کړي او یا یې د پوره کولو لپاره هلې ځلې وکړي.

تر دې لویه مسخره به بله چېرته وي چې د ولس د استازو کور اوس د رهنمای معاملاتو په نوم یادېږي! ځکه په همدې کور کې د ولس په رایو معاملې کېږي، د شخصي ګټو لپاره، د تنظیمي او قومي ګټو لپاره. د جرګې ګڼ غړي یوازې په دې فکر کې دي چې څنګه ان د خپل راتلونکې شلم نسل ژوند هم جوړ کړي او راحت ژوند ورته له اوسه نقشه کشي کړي.

ځینې خلک ناهیلي شوي او حق یې هم دی. د همدې ناهیلیو له کبله وایي چې نور رایه نه ورکوي؛ خو له دې ناخبره دي چې دا تصمیم به یې د اوسني ناوړه وضعیت عمر لا هم اوږد کړي. هغه کسان چې دوی یې ناهیلي کړي، هغوی به هماغه شان په موقف کې پاتې شي او خپلې سوداګرۍ ته به ادامه ورکړي.

ښه خبره دا ده چې خلک د قوم، ژبې، ګوند او نورو شخصي ملحوظاتو لومې وشلوي، تجربه شوي ناکامان بیا تجربه نه کړي. هغوی ته رایه ورکړي چې د خیر تمه ترې کېږي او چې بریالي شول بیا ترې وخت په وخت د خپلو رایو پوښتنه وکړي. خو ولس برعکس لګیا دی بیا یې هم هغه کسانو ته رایې ورکړې، کومو چې د ولس له ګټو څخه خپلو شخصي ګټو ته ډېر اولویت او ترجېح ورکوله. دوی بیا هم ولس ته دوکه ورکړه او د ولس په سترګو یې بیا د پنځو کلونو لپاره پټۍ راکش کړه.

## د اندونیزیا د علماوو پلاوی: په افغانستان کې د سولې لپاره خپلې هلې ځلې جاري ساتو



کابل ته د اندونیزیا د علماوو شورا او دولت ګډ راغلي پلاوي، د افغانستان د سولې شورا له غړو سره په کتنه کې د راتلونکو هغو ناستو په اړه خبرې وکړې چې په اندونیزیا کې به جوړې شي.

د سولې عالي شورا وياند سید احسان طاهري رسنیو ته ویلي چې دغه ۱۳ کسیز پلاوی د اندونیزیا هېواد د علماوو شورا د مرستیال په مشرۍ ورمه ورځ کابل ته راغلی.

هغه ویلي چې دغه پلاوي په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د افغانستان د سولې عالي شورا له غړو سره وکتل او د راتلونکو ګډو هغو ناستو په اړه یې خبرې وکړې چې په اندونیزیا کې به تر سره شي.

د ده د معلوماتو له مخې، په دغه لیدنه کې د اندونیزیا د علماوو شورا مرستیال ویلي چې دوی له افغانستان سره د سولې په پروسه کې خپلې همکارۍ جاري ساتي او په دې برخه کې به جدي او همغږې کړنې وکړي.

د سولې عالي شورا مرستیال عبدالخبیر اوچقون، په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د اندونیزیا له هلو ځلو مننه کړې او زیاته کړې یې ده چې د یاد هېواد د هڅو په پایله کې د سولې په برخه کې پرمختګ راغلی او د سولې د پروسې او مذاکراتو لپاره به مهم او موثر ګامونه واخیستل شي.

په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه مخکې هم د افغانستان، پاکستان او اندونیزیا دیني علماوو د اندونیزیا هېواد په کوربه توب ګډه ناسته لرله.

## په فراه کې د الوتکې د لوېدو له کبله د ۱۲ وژل شویو کسانو جسدونه ترلاسه شوي دي



د فراه د والي ویاند وایي، په دغه ولایت کې د الوتکې د لوېدو په پېښه کې د وژل شویو یو شمېر کسانو جسدونه یې د قومي سپین ږیرو او سره صلیب په همکارۍ د فراه مرکز ته انتقال کړي دي.

په فراه کې د ملي اردو د هلیکوپټر له سقوط نږدې یوه اونۍ تېرېږي، خو لا هم په دغه پېښه کې د وژل شویو یو شمېر کسانو جسدونه لا درکه دي.

د فراه د والي ویاند ناصر مهري پرون رسنیو ته وویل، په دغه پېښه کې د وژل شویو کسانو له ډلې د ۱۲ تنو جسدونه یې تر دې مهاله ترلاسه کړي او د نورو لپاره هم هڅې روانې دي.

د دفاع وزارت یو هلیکوپټر د چهارشنبې په ورځ د فراه په انارډرې ولسوالۍ کې وغورځېد چې له امله یې د ۲۰۷ قول اردو د مرستیال او د هرات د ولایتي شورا د رییس په ګډون ۲۵ کسان ووژل شول. دفاع وزارت وايي، یاده چورلکه د زیات وزن او تخنیکي ستونزو له امله غورځېدلې، خو وسله والو طالبانو بیا ویلي چې چورلکه دوی نسکوره کړې.

طالبانو دغه راز ادعا کړې چې د چورلکې د سپرلۍ جسدونه له دوی سره دي او تر هغه به یې کورنیو ته تسلیم نه کړي چې حکومت د جنرال رازق د قاتل جسد دوی ته نه وي سپارلی. د فراه د والي ویاند ناصر مهري ویلي، دوی هڅه کوي چې ټول جسدونه د قومي سپین ږیرو او سره صلیب په همکارۍ ترلاسه کړي او که له دې لارې د جسدونو په ترلاسه کولو بریالي نه شي، په عملیاتو به لاس پورې کړي.

## دریځ

### د مسکو غونډه کېږي، خو څه ډول؟

د افغان سولې په تړاو د مسکو غونډه د راتلونکې جمعې په ورځ کېږي. دا غونډه چې ټاکل شوې وه، څه وخت وړاندې شوې وی، خو د ملي یووالي حکومت په غوښتنه ځنډېدلې وه. اوس روسي چارواکو ویلي چې د افغانستان حکومت او طالبانو په دې غونډه کې له ګډون سره موافقه کړې ده، خو حکومت وايي چې له روسیې سره په مسکو کې د افغانستان د سولې په اړه د غونډې پر دقیق وخت او څرنګوالي موافقه نه ده شوې. له دې سره داسې رپوټونه هم خپاره شوي چې مسکو ځینو افغان سیاستوالو ته هم بلنه ورکړې ده چې په دې غونډه کې برخه واخلي.

د ملي یووالي حکومت پر دوو دلایلو د دې غونډې د ځنډ غوښتنه کړې وه. لومړی دا چې د دې غونډې د مشرۍ په اړه بحث وشي او معلومه شي چې مشري به یې څوک کوي. دویم دا چې په دې غونډه کې به د بحث موضوع او ډول څرنګه وي. حکومت څو ورځې وړاندې د سولې عالي شورا د دار الانشاء رییس اکرم خپلواک او د بهرنیو چارو وزارت اداري مرستیال نصیر اندیښه مسکو ته د خبرو اترو لپاره لېږلي وو. له دې سفر وروسته د بهرنیو چارو وزارت ویلي وو چې دغه خبرې کومې ښکاره پایلې ته نه دي رسېدلې.

د افغانستان حکومت غوښتنه لري چې د دې غونډې مشري باید د افغانستان په لاس کې وي، خو دا هغه څه دي چې که یې مسکو ومني، نو طالبان به په غونډه کې ګډون ونه کړي. وسله وال طالبان له افغان حکومت سره خبرې نه کوي او بیا که د حکومت په مشرۍ غونډه جوړېږي، نو دوی پکې ګډون ته تیار نه دي. له همدې امله د ملي یووالي حکومت دا غوښتنه هم نه ده منل شوې. له بله اړخه حکومت غواړي چې په دې غونډه کې وسله وال مخالفین مخامخ له حکومت سره خبرې وکړي، خو طالبان بیا په دې غونډه کې بېله اجنډا لري. دوی د حکومت نوم نه اخلي، له امریکا سره پر خبرو ټینګار کوي او د سیمې له هېوادونو غواړي چې د دوی د دریځ ملاتړ وکړي. دا هغه څه دي چې نه طالبان ترې تېرېږي او نه یې هم د ملي یووالي حکومت منلو ته تیار دی.

له بله اړخه د ملي یووالي حکومت پر دریځ د امریکا سیوری هم خور دی. مسکو له وړاندې په دې غونډه کې خپل ګډون رد کړی او ویلي یې دي چې دوی یوازې د هغو هڅو ملاتړ کوي چې مشري یې افغانان کوي. کله چې امریکا ګډون ونه کړي، نو له یوه اړخه به د ملي یووالي حکومت د ګډون جرئت ونه کړي او له بله اړخه به دا ګډون ارزښتمن هم نه وي. امریکا نه غواړي چې د افغانستان د جګړې او سولې بحث د بل چا په رهبرۍ او مدیریت وشي. له بله اړخه ښايي دوی په داسې غونډو کې له جدي پوښتنو او غوښتنو سره مخ شي، نو ځکه غوره ګڼي چې ګډون پکې ونه کړي.

له بده مرغه د امریکا سیاستونه او د حکومت کمزوري د دې سبب شوې چې په دې غونډه کې د ملي یووالي حکومت ګډون او نه ګډون دواړه زمونږ په زیان شي. که حکومت ګډون نه کوي، نو په سیمه ییزه کچه منزوي کېږي او که ګډون کوي، نو داسې یوې غونډې ته به مشروعیت ورکړې چې دوی پکې تر پښو لاندې کېږي او طالبان پکې د خپل قدرت او مشروعیت ننداره وړاندې کوي.

# چکري مناره

صفیه حلیم

د کابل د سوېل ختیځ په ۱٦ کیلو متری کې ۲۸ نیم متره لوړه چکري مناره د کشان سلطنت د اوج یوه نښه وه. دا د لومړی میلادي پېړی په وروستیو او د دویمې میلادي پېړی په پیل کې له خښتو او پلستره جوړه شوه.

د کابل د شمال نه تر سوېل ٦۰۰ متره لوړه د غونډیو سلسله ده چې د هندوکش غرونه ښکاري. په سوېل کې دغه غر د یوې بلې هوارې غونډی، «شاخ برانتا» سره لگي. د دې بېخ نه لږ ښکته د وربښمو لاره وه چې قافلې او د بودایي راهبانو ډلې به پرې تېرېدې.

په ۱۰۰ میلادي کال کې کشان سلطنت د ویما کډ فیسس په حکومت کې تر هند وغځېدو او د تجارتي لارو په خوندي کېدو د دوی اقتصاد ښه شو. کشان واکمنو د بودایي دین سرپرستي کوله، نو په مهمو ښارونو کې د سټوپو او خانقاوو په جوړولو یې لاس پورې کړ. په کابل کې دوی دوه منارونه جوړ کړل چې سانسکریټ کې «ستهمبه» نومېږي. لومړی د ښار په سوېل کې «سرخ مینار» چې ۱۹ متره لوړ و. د دې څوکه پخوا ړنگه شوې وه او په ۱۹٦۵م کال کې یوې زوروري زلزلې یې پاتې برخه هم ونړوله. دویم «مینار سیاه» په نوم مشهور و چې وروسته یې خلکو نوم په «مینار چکر» بدل کړ.

په ۱۹مه میلادي پېړی کې کله چې بهرنیانو په لومړي ځل د افغانستان لرغوني ځایونه ولیدل، نو په غونډیو جوړ منارونه او سټوپې ورته حیرانوونکي وو. چکري مناره په لومړي ځل چارلس مېسن په نښه کړه. بیا په ۱۸۳۴م کال کې یو انگریز جاسوس جیرارډ بخارا ته په لاره دا مناره ولیده او پخپلو یادښتونو کې یې ذکر وکړ. په دغسې منارو کې مجسمې یا بل څه تبرکات نه وو، نو ځکه بهرنیانو پرې پام و نه کړ.

په ۱۸٤۱م کال کې کله چې چارلس مېسن لندن ته لاړ، نو د «یونانی منارې» په اړه یې لیکنه وکړه او ورسره یې په لاس جوړ د دې انځور هم خپور کړ. د مېسن انځور الگزانډر کننگهم هم ولید چې هغه وخت د هند د لرغونو اثارو د شعبې مشر و. دی په ۱۸۷۲م کال کې کابل ته راغی، مناره یې پخپله ولیده. هغه وخت کې څرگنده شوه چې دا یوناني جوړښت نه و، بلکې کشان وختونو کې جوړ شوی و. هغه ولیکل چې د دواړو منارونو اصل دکانچه په لاس هوار کړای شوی دی.

په ۱۸۸۰م کال کې انگریزانو له دویم جنگ نه وروسته خپل مخالفان لټول. دوی د منارې غره ته هم وختل او هغه وخت یوه عکاس جان برک د منارې عکسونه واخیستل چې په ۱۸۸۱ م کال کې د برېټانیا پوځي مجله کې خپاره شول. له دې سره یې په تفصیل لیکلي وو چې د سلیټ په تیره جوړه دغه مناره پوخ بنسټ لري. هغه وخت د دې زړښت د ۲۰۰۰ او ۳۰۰۰ کلونو ترمنځ اټکل شو، ځکه د کشانیانو په اړه چا معلومات نه لرل.

د ۲۰مې میلادي پېړی په منځ کې په دغو منارو نورې څېړنې وشوې. «کلاس فیشر» په ۱۹۵۵م کې وربانديې څېړنې وکړې او د هغه په مشوره، یو مهندس کرستوف ډورنیخ په ۱۹٦۵م کال کې مناره کچ کړه. د ۱۹۷٤م او ۷٦م کلونو ترمنځ برېټانوي او افغان لرغونپوهانو د چکري منارې جاج واخیستو چې سوېل ختیځ لوري ته څلور درجې کږه شوې وه. دوی ورته په بېخ کې د تیږو او سیمنټو اډانه جوړه کړه، ځکه د اصلي دکانچې بېرته جوړول ورته گران وو او د منارې د ړنگېدو خطر یې لرلو. ورسره د دې په جوړښت کې کارول شوي مواد یې تجزیه او تحلیل کړل. دوی د منارې د ټینگولو لپاره ورسره د اوسپنې «خوازه» ولگوله او د دې په رغولو گوتې پورې شوې.

د منارې د بېخ دکانچه اته متره مربع پلنه وه. د دې لومړي انځورونه ښیي چې دغه پلېټ فارم ډېر پراخ نه و. د دې منځ کې گول ستنه ۱۲ متره لوړه وه. سوېلي اړخ یې د هوا، باران او واورې له کبله رېژېدلی و او کوږ ښکارېدو. د منارې بره خوا د هغو ستنو په شکل وه چې په دریيمه ق م پېړی کې د اشوکا پاچا له خوا په ټول هند کې ځای ځای درول شوې وې او د هخامنیي دورې د پارس د ستنو په شکل جوړېدې. خو په چکري منارې هندي ډوله نقشونه وو چې د بودایي سټوپو او مجسمو سره د اوبدلې ټوکرۍ په شان ښکاري. که څه هم کشان پاچاهانو بودایي دین منلی و، خو هغوی د پارس زردشتي او د هند برهمني مذهب ته هم درناوی کاوه. هغه ده چې په چکري مناره د درې واړو ادیانو نښې هم ښکاري. د کشان وختونو په یوې سکې، یو اړخ ته د اورتون او بلې ته د څرخ نښه ده.

داسې اټکل کېږي چې ممکن زردشتیانو دلته عبادت کاوه، ځکه دا د اورتون نښه هم وه او د سرخ کوتل عبادت ځای په شان ښکارېده. د دې منارې د پاسه لگېدلې تیږه د شاوخوا غرونو نه توږل شوې وه چې کمرنگ گرینایټ او شین سلیټ ده. د خښتو د پاسه ۳۰- ۵۰ سانتي متره پرېړ د مسالې پوښ و او د خښتو په درزونو کې د سلیټ خاوره کارول شوې وه. د منار په منځ کې د گرانیټ کلکه تیږه او مساله پرته وه. د شوخ رنگ تیږې لویې درې ځای ځای وربانديې خښې وې چې د ننه مساله پرې ټینگه وه. دغه تیږې په لږ فاصله بهر ته راوتلې دي چې منار ته یې ښکلا ورکړې ده. د منار د پاسه د برسنډې د گل نقشونه د بودایي دورې جوړښت و. دغه ډیزاین د سوات د مینگورې له یو منار سره ورته و چې اوس نه دی پاتې. د دې دننه چې مساله په کوم ډول ډکه ده، هغه په نورو بودایي جوړښتونو کې هم ښکاري. له دغې منارې سره په ۱۸مه پېړی کې یوڅو کورونه اباد شول چې «چکري کلی» نومېږي.

چکري مناره د مسلمانانو، چنگېز او نورو څواکونو له ۱۲ نه د زیاتو لویو حملو او جنگونو سربېره ۱۷۰۰ کاله ټینگه پاتې وه. بیا په ۱۹۸۳م کال کې د شوروي د یرغل په وخت، د دوی عسکرو په منارې نښې ویشتلې. هغه وخت د دې بهرنی پوښ ورېژېدو او دننه خښتې بربنډې شوې. بل کال د دې د سر لوی چتر راپرېوت. خو مناره تر ۱۹۸۰م کاله هم په خپل ځای ولاړه وه. ورپسې کلونو کې یو څو زلزلو د دې بېخ کمزوری کړ او اخر په مارچ ۱۹۹۸م کې چکري مناره په خپله راپرېوته.

# د ټاکنو خپلواک کمېسیون مرکزي ډېټابېس ته د بایومېټریک ډېټا لېږد پیل کړ



د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ډېټابېس سیستم مرکز پرانیست او دغه مرکز ته یې د بایومېټریک اطلاعاتو د انتقال پروسه پیل کړه. له بلې خوا مشرانو جرگې د کمېسیون د هغې طرحې ملاتړ کړی چې پر بنسټ یې د ولایتي شوراگانو ټاکنې له ولسمشریزو ټاکنو جلا کېږي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې سرور یا ډېټابېس ته د بایومېټریک اطلاعاتو د انتقال بهیر پرون یکشنبه د کورنیو او بهرنیو څارونکو بنسټونو په حضور کې رسماً پیل شو.

د کمېسیون د ویاند مرستیال ذبیح سادات وایي، دا کار د شفافیت د تأمین او په ځانگړي ډول د رایو له تکراره د مخنیوي په هدف شوی دی.

سادات ویلي، تر دې مهاله له ۲۳ ولایتونو د بایومېټریک سیستم مواد کابل ته را انتقال شوي دي او د لسو نورو ولایتونو مواد به راروانو ورځو کې را انتقال شي او هڅه کېږي چې د ټاکنو د لومړنیو پایلو تر اعلان پورې به دا پروسه بشپړه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ کمېسیون د ولسي جرگې د ټاکنو د لومړنیو پایلو په اعلان کې د ځنډ خبره وکړه.

د کمېسیون چارواکي وایي چې د ۳۲ ولایتونو د ولسي جرگې د ټاکنو پایلې به د عقرب په دویمه او د کابل به بیا د همدې میاشتې په لسمه نېټه اعلان شي.

له مهالوېش سره سم د ولسي جرگې د ټاکنو لومړنۍ پایلې باید د عقرب د میاشتې په نولسمه اعلان شي، خو کمېسیون دا موده څو نورو ورځو ته هم وغځوله.

پر ټاکنو د څار بنسټونه بیا د ټاکنو کمېسیون پر کړنو نیوکه کوي او وایي، دا تگلارې نه شي کولای چې پاکې رایې له تقلبي رایو جلا کړي.

د افغانستان د رڼو ټاکنو د بنسټ یا ټیفا مشر محمد نعیم ایوب زاده وایي، د ټاکنو کمېسیون دې له خپلو همکارانو او شریکانو سره په سلا مشورو د رایو په شمېرلو کې په یو سم میکانېزم کار وکړي، ځکه چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوازې د بایومېټریک سیستم له لارې نتیجې ته نه شي رسېدلی او ستونزې به پر خپل ځای موجودې وي.

په داسې حال کې چې پر ټاکنیزو کمېسیونونو نیوکو زور اخیستی، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې ډېر ژر به د ولسمشریزو ټاکنو مهالوېش اعلان کړي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مرستیال ویاند عبدالعزیز ابراهیمي ویلي، کمېسیون سیاسي گوندونو او مدني ټولنو ته یوه طرحه سپارلې چې پر بنسټ یې د ولسوالیو او ولایتي شوراگانو ټاکنې له ولسمشریزو ټاکنو جلا په یو وخت ترسره کېږي.

مشرانو جرگې د کمېسیون ددې طرحې ملاتړ کړی او ویلي یې دي چې ټولې ټاکنې پر یوه وخت نه شي ترسره کېدای.

په مشرانو جرگه کې د غزني استازي محمدرحیم حسنیار وویل، که وضعیت په همدې شکل دوام کوي نو پر یوه وخت د ټولو ټاکنو ترسره کول به کړکېچ رامنځته کړي.

د مشرانو جرگې دویم منشي محمد اصف صدیقي چې د پرونۍ ناستې مشري یې پر غاړه وه هم د ولایتي شوراگانو او ولسمشریزو ټاکنو د جلا ترسره کېدو په اړه د کمېسیون د پرېکړې هرکلی وکړ او له سیاسي گوندونو او مدني فعالانو یې وغوښتل چې د کمېسیون له دې طرحې ملاتړ وکړي.

په ورته وخت کې یو شمېر سیاسي گوندونو او د ټاکنو څارونکو بنسټونو ویلي چې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراگانو د ټاکنو د جلا ترسره کېدو طرحه د قانون خلاف او د لویې جرگې جوړېدو ته د زمینې له برابرولو تېښته ده.

# د سعودي بل مشهور میلیاردر خالد بن طلال هم له بنده ازاد شوی



سعودي عربستان د میلیاردر ولید بن طلال ورور خالد بن طلال تر کابو یوه کلن بند وروسته خوشې کړ. ویل کېږي د خبریال جمال خاشقجي د وژلو له کبله پر سعودي تر فشار وروسته خالد خوشې شوی دی.

شهزاده خالد د سعودي د پاچا سلمان بن عبدالعزیز لمسی دی.

د شهزاده خالد بن طلال د خوشې کېدو خبر د هغه د کورنۍ دریو غړو پر ټوېټر خپور کړی، د هغه انځورونه یې خپاره کړي چې تر خوشې کېدو وروسته د کورنۍ غړي مچو کوي او خپل زوی په غېږ کې نیسي.

د ۲۰۰ شهزادگانو په گډون د فساد په تور نیول شوي کسان د ریټز کارلټن په نامه د ریاض په یوه لوکس هوټل کې ساتل کېږي.

په نیول شویو کې ۲۰۰ شهزادگان، چارواکي او سوداگر هم وو چې د ریاض ریټز کارلټن هوټل کې ساتل کېدل.

د سعودي حکومت وایي، دا نیونې د فساد ضد کمپاین په لړ کې شوې، خو مخالفین یې بیا وایي چې دا د شهزاده محمد بن سلمان له خوا د خپل واک ډېرولو په پار هڅې دي چې خپل سیالان وځپي.

شهزاده ولید بن طلال هم د نیول شویو په نوملړ کې و چې د تېرې جنورۍ په لومړیو کې له حکومت سره د نا اعلان شوې مالي هوکړې تر لاسلیکولو وروسته خوشې شو.

له شهزاده ولید بن طلال سره د شوې معاملې په څېر، سعودي چارواکو له نورو گڼو نیول شویو کسانو سره هم د هغوی د خلاصون په اړه مالي معامله کړې ده.

شهزاده خالد بن طلال داسې مهال خوشې شوی چې پر سعودي عربستان د ترکیې په استانبول کې د سعودي کونسلگرۍ د ننه د خبریال جمال خاشقجي د وژل کېدو په اړه د نړیوالو له خوا فشارونه او غوسه ډېره شوې ده.

څارونکي وایي، د خاشقجي قضیه د سپټمبر ۱۱مې له پېښې وروسته تر ټولو ناوړه دیپلوماتیکه شخړه گڼل کېږي چې دا مهال سعودي عربستان ورسره مخامخ دی.

د تېرې جمعې په ورځ د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان وویل، د خاشقجي د وژلو امر د سعودي حکومت د «مشرتابه» له خوا شوی، خو د شهزاده نوم یې نه دی اخیستی.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دولسمه ځانګړنه
**هیجان:**




**ژوند وکړئ او په مینه یې وکړئ**

رهبر چې له چا سره په تاوده هرکلي مخامخ شي
هغوی هم په تاوده هرکلي ځواب ورکوي.
(جان مکسوېل)

هر څوک له کارونو سره بې غوري کولای شي، خو که تاسې یو ځل ژمنه وکړه، نو په وینه کې به مو داسې شوق پیدا شي، چې هېڅوک به مو بیا مخه نشي نیولی.
(بیل کازبي)
«کومپېډین»

**د پیزه سُس د هغه په وینه کې دی**

پـه یـو بـل کتـاب کـې مـې د پاپـا جـان پیـزه تـه اشـاره کـړې وه او دا مـې ویـلي وو چـې دا شرکـت څنګـه پـه ۱۹۸۴ز کال کـې د جـان شـناتر پـه لاس پرانیسـتل شـو، څنګـه پـه لومړیـو کلونـو کـې لـه یـوه، ۴٦ څانګـې جـوړې شـوې او څنګـه ورپسـې اوږدو کلونـو کـې دا ۴٦ څانګـې، ۱٦۰۰ تـه ورسـېدې. پـه دوهمـو اوو کلونـو کـې د دې شرکـت وده د چاوېدونکـې ودې د قانـون تابـع وه، دا قانـون وایـي: (کـه غـواړئ وده وکـړئ پیـروان رهـبري کـړئ او کـه غـواړئ چـې څـو چنـده وده وکـړئ، نـو رهـبران رهـبري کـړئ.) خـو دا د دوهمـو اوو کلونـو خـبره شـوه، خـو د پاپـا جـان پیـزه شرکـت پـه لومړیـو اوو کلونـو کـې څنګـه وده وکـړه؟

ځـواب یـې شـوق دی! جـان شـناتر نـه یـوازې پیـزه خـوړه، بلکـې سـاه یـې ورسره اخیسـته، خـوب یـې ورسره کاوه او ټـول ژونـد یـې ورسره کاوه. ده خپـل ټـول فکـر او ذکـر پـه پیـزه کـې را ټـول کـړی و. مایـکل سـپایزر د لهمان بـردرز تحلیلګـر یـې پـه بریـا مجلـه کـې پـه اړه ویـلي وو: (پیـزه د جـان شـناتر ژونـد دی او هغـه یـې دغـه ژونـد تـه ډېـر جـدي ګـوري.)

د شـناتر فلسـفه ډېـره سـاده ده، دی وایـي: (کـوم کار چـې ښـه کـولای شـئ پـه هغـه متمرکـز شـئ او تـر نـورو یـې ښـه وکـړئ.) هغـه دا کار ښـه کـولای شي چـې د نـړۍ مـخ پـر وده سـوداګري رهـبري کـړي او دا کار پـر خپـل ځـای تـر نـورو ښـه کـوي. هغـه لـه دې کاره دومـره خونـد اخـلي چـې لـوړې څوکـې تـه یـې رسـېدلی دی.

پـه دې وروسـتیو کـې خپـل هغـه د پیـزې پلورنځـي تـه لاړ چـې مېرمـن یـې اداره کـوي. ګـوري چـې پېرودونکـي پکـې سـخت ډېـر دي او ګڼـه ګوڼـه جـوړه ده، ولـې؟ ځکـه فرمایشـونه ډېـر وو، ده څـه وکـړل؟ دی دسـتي پخلنځـي تـه ورغـی او پـه پیـزه پخولـو یـې لاس پـورې کـړ، چـې د پېرودونکـو فرمایـش پـه خپـل وخـت پـوره شي او دې کار یـې یـو نیـم سـاعت دوام وکـړ. شـناتر لـه دې کار سره مینـه لـري او خونـد یـې تـرې اخیسـته. دی پـه اونـۍ کـې څلـور پنځـه ځلـه پلورنځیـو تـه ځـي او زیاتـره وخـت ناڅاپـي ورځـي. د دې لپـاره ورځـي چـې د چـارو پـه سـمون ډاډه شي.

شـناتر ویـلي: (مـا چـې بـه پـه ۲۲ کلنـۍ کـې د پیـزې پـه کاروبـار خـبرې کولـې، خلکـو بـه راپـورې خنـدل چـې لېونـی شـوی یـې. بیـا چـې بـه مـې پانګوالـو او بانکونـو تـه ویـل چـې هـره میاشـت بـه څلـور پنځـه پلورنځـي پرانیـزم، هغـوی بـه را پـورې لا ډېـر خنـدل.) خـو اوس هـره میاشـت نـږدې ۳۰ پلورنځـي، یعنـې هـره ورځ یـو پلورنځـی پرانیـزي.

د شـناتر نیـت دی چـې دا شـمېر لا هـم زیـات کـړي. د پیـزې پلورنـې ښاخګه یـې پـه مکسـیکو کـې پرانیسـتې ده او اوس یـې زړه دی چـې پـه وینزویـلا، پورتوریکـو او نـورو بهرنیـو بازارونـو کـې هـم ښاخګـې پرانیـزي، د ده زړه بـه هلـه ښـه شي او آرام بـه کېنـي چـې د نـړۍ تـر ټولـو سـتر پیـزه پلورونکـی شي.

**دې ته تم شئ**

متخصصیـن پـه دې ډېـر وخـت اړ وي چـې د خلکـو د بریـا لاملونـه وپېـژني. دوی زیاتـره وخـت پـه خلکـو کـې پوهـه، شـعور او زده کـړې ګـوري، خـو تـر ټولـو مهـم شـی پکـې شـوق دی. سـارنوف وایـي: (هېڅـوک تـر هغـې نـه بریالـی کېـږي چـې لـه خپـل کار سره یـې شـوق نـه وي.)

د لویـو رهبرانـو ژونـد زیاتـره کلیشـه یـې نـه وي. لکـه د فورچـون ۵۰۰ شرکـت ۵۰ سـلنه اجرائیـوي رئیسـان لـه پوهنتـون نـه پـه (ښـه یـا C) درجـه فـارغ شـوي دي. د امریـکا ۷۵ سـلنه جمهـور رئیسـان پـه ښـوونځیو کـې معمـولي او متوسـط شـاګردان وو او د لویـو میلیونرانـو متشـبثینو نـږدې ۵۰ فیصـدو یـې ان دولسـم هـم نـه دی لوسـتی، خـو دا معمـولي خلـک څنګـه لویـې بریـاوې ترلاسـه کـوي؟ ځـواب یـې مینـه او شـوق دی. هېـڅ شـی د رهـبر پـه ژونـد کـې د شـوق او مینـې ځـای نـشي نیولـی.

**دوام لري...**

# روانډا

**حشمت الله نوري**



روانډا د افریقا د لویې وچې په منځنۍ برخه کې د ختیځو طول البلدونو د ۲۹ او ۳۰ درجو او د جنوبي عرض البلدونو د ۱ او ۲ درجو ترمنځ موقعیت لري. پراخوالی یې ۱۰۱۳۰ کیلو متره مربع دی او له دې پلوه د نړۍ ۱۴۹م لوی هېواد دی. شمال ته یې یوګندا، سوېل ته یې بروندي، ختیځ ته یې تانزانیا او لوېدیځ ته یې کانګو او د کیوي جهیل موقعیت لري.

روانډا د استوا له کرښې سره د نږدېوالي له کبله توده استوایي هوا لري.

روانډا د افریقا ډېر کوچنی او په وچه پورې تړلی هېواد دی چې له اوبو سره ګډه پوله نه لري. د روانډا ۹۷ سلنه خاوره د سمندر له سطحې څخه ۱۰۰۰ متره جګوالی لري. د سمندر له اوبو څخه د دغه هېواد د خاورې جګوالی له ختیځ څخه لوېدیځ لور ته ورو ورو کمېږي. د روانډا شمالي سیمې غرنۍ او سوېلي سیمې یې له سمندر څخه له لرېوالي سره سره په ګڼو ځنګلونو پوښلې دي.

د دغه هېواد پلازمېنه د کیګالي ښار دی. د ټولو وګړو شمېر یې څه باندې ۱۲ میلیونو تنو ته رسېږي چې په هر کیلو متره مربع سیمه کې یې ۴٦۰ تنه ژوند کوي.

د روانډا ۲۵ سلنه وګړي په ښارونو کې ژوند کوي او پاتې ۷۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې د پنځو ماشومانو د درلودلو اجازه لري.

روانډا د اداري وېش له پلوه په څلورو ولایتونو او یو ښار وېشل شوې ده. بوتارا، ګیتاراما، ګیسیني، بیامبا او کوبنیګو یې لوی او مشهور ښارونه دي.

۸۵ سلنه وګړي یې تور پوستي او ۱۵ سلنه نور یې توتسي نژاده دي. ۸۳ سلنه وګړي یې مسیحیان، ۷ سلنه یې مسلمانان او پاتې نور یې د بېلابېلو دینونو پیروان دي. رسمي ژبې یې فرانسوي او انګلیسي او لیکدود یې لاتیني دی.

د روانډا اساسي قانون د ۱۹۹۵ ز کال د مې په پنځمه نافذ شوی چې د ۲۰۰۳ ز کال د مې په ۲٦مه په یوه ټولپوښتنه کې پرې نوې کتنه وشوه.

په روانډا کې ولسمشر د خلکو له خوا د اوو کلونو لپاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي، خو د کابینې وزیران او لومړی وزیر د ولسمشر له خوا په دنده ګومارل کېږي.

د روانډا ملي شورا دوې جرګې لري؛ مشرانو جرګه ۲٦ غړي لري، ۱۲ یې د سیمه ییزو شورا ګانو له خوا، اته یې د ولسمشر، څلور یې د سیاسي ګوندونو او دوه نور یې د لوړو زده کړو د استادانو له خوا ټاکل کېږي. دویم د مرستیالانو ټولنه چې ۸۰ غړي لري؛ ۵۳ یې د خلکو په خوښه، ۲۴ ښځې د سیمه ییزو شوراګانو او مدني ټولنو له خوا، درې یې د ځوانانو او معیوبینو د ټولنو له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

د روانډا ملي شورا اووه کاله کار کوي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د روانډا حقوقي نظام د المان او بلجیم په مدني قوانینو او د خلکو په عنعنوي دودونو ولاړ دی. د استیناف محکمه د روانډا تر ټولو لوړ قضایي ارګان دی.

د روانډا د جمهوریت عالي محکمه، سوداګریزه محکمه او ګڼ شمېر منځنۍ او لومړنۍ محکمې او یوه لوړه پوځي محکمه هم لري.

د سن ترست ولسواک ګوند، جمهوري غوښتونکی ګوند، ولسواک اسلامي ګوند، روانډایي هېواد پاله جبهه او د روانډا سوسیالیست ګوند د دغه هېواد له مخکښو ګوندونو څخه دي.

روانډا د ۱۹٦۲ ز کال د جولای په لومړۍ نېټه له بلجیم څخه خپلواکي ترلاسه کړه، نو له همدې کبله د جولای لومړۍ نېټه هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي. دغه راز روانډا په ۱۹٦۲ ز کال کې د ګڼو نړیوالو ټولنو ترڅنګ د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.

د روانډا ۹۰ سلنه خلک په داسې کرنه بوخت دي چې یوازې د ځان لپاره لومړني خوراکي توکي برابروي. له دې وروسته د ځینو کاني موادو ایستل او هغه صنعت د یادولو وړ دی چې خوراکي توکي پروسس کوي.

سیلانیان، کاني توکي، قهوه او چای د روانډا د صادراتي عوایدو مهم اقلام بلل کېږي. دغه راز د روانډا د کاني توکو صادرات په نړیوال مارکېټ کې ښه دي.

په ۱۹۹۴ ز کال کې د روانډا کورنۍ جګړې د دغه هېواد اقتصادي بنسټونه ونړول او د دغه هېواد خلک یې خورا بېوزله کړل. د روانډا ښځو په دغه جګړه کې ډېر زیانونه ولیدل. جګړو په دغه هېواد کې د پانګونې لپاره د کورنیو او بهرنیو سوداګرو علاقمندي هم کمه کړه.

له جګړو څخه وروسته د روانډا دولت په هېواد کې د سیاسي ثبات او د اقتصاد د بیاغوړولو لپاره ګړندي ګامونه اوچت کړل. ناخالص کورني تولیدات زیات او انفلاسیون کم شو. شمېرې دا په ډاګه کوي چې له ۲۰۰۳ ز کال څخه تر ۲۰۱۰ ز کال پورې د روانډا کورنیو ناخالصو تولیداتو هر کال اووه سلنه وده کړې او انفلاسیون له ۴۰ او ۲۰ څخه ۷ او ٦ سلنې ته راټیټ شوی.

له دې ټولو سره سره د روانډا نیمایي خلک د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او د کرنې سکټور د خلکو د اړتیا وړ خوراکي توکي نه شي برابرولی. روانډا په تېرو ۱۲ کلونو کې له ای ایم ایف او نړیوال بانک څخه مرسته تر لاسه کوي او ای ایم ایف د روانډا حکومت د ښو اجراأتو له کبله د هغو هېوادونو په لېست کې شامل کړ چې د ډېرو مرستو د لګولو وړتیا لري.

د روانډا حکومت هڅه کوي چې د لاندې کارونو له لارې خپلې ستونزې هوارې او د خپلو بېوزلو خلکو ژوند ته بدلون ورکړي. د ښوونې او روزنې پرمختیا، د بنسټیزو پروژو جوړول، د بازار د اقتصاد د اساساتو پلي کول، پانګونې ته د کورنیو او بهرنیو پانګوالو هڅول او د مناسبو لویو لارو جوړول.

د دغه هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو کچه ۱۷ میلیارده ډالره او د سړي سر کلني عاید کچه یې ۷۵۴ ډالره اټکل شوې ده.

د دغه هېواد کلني عواید دوه میلیارده ډالرو او لګښتونه یې ۲.۱۵ میلیارده ډالرو ته رسېږي.

د کاني موادو استخراج، د خوراکي توکو پروسس، بربېښنا، لرګي، موبل او فرنیچر، ټوکران، پلاستیکي توکي، بوټونه، صابون، سګرېټ، سمنټ او راډیوګانې د دغه هېواد په صنعت کې مهم رول لري.

د روانډا ۵۰ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. ۱۷ سلنه ځمکه یې څرځایونو، ۱۵ سلنه ځنګلونو او پاتې نوره غرونو، بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د هستوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده.

د دغه هېواد ۹۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې په کار بوخت دي او د هېواد ۳۴ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاسته راځي. لرګي، غنم، پنبه، جوار، وریجې، قهوه، چای، حبوبات، کچالو، خرما، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هګۍ او واښه د روانډا د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.

سره زر، سپین زر، مس، الماس، اوسپنه او طبیعي ګاز د دغه هېواد له لویو او مهمو کانونو څخه دي.

بلجیم، کینیا، یوګندا، عربي متحده امارات، چین، هند او تانزانیا د دغه هېواد له لویو سوداګریزو شریکانو څخه دي. دغه هېواد لس هوایي ډګرونه لري چې شپږ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د ټیلیفون کوډ نمبر یې ۰۰۵۲۰ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې آر ډبلیو دی او پنځه لکه وګړي یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

روانډا یو ټلوېزیون او یوه راډیو لري چې په دولت پورې اړه لري او په ټول هېواد کې اورېدل کېږي، خو خصوصي برخه یې ۱۴ راډیوګانې لري. د دې ترڅنګ په روانډا کې پنځه ورځپاڼې او ۲۵ اونیزې او مجلې شته. په دغه هېواد کې هر کال هر سړی په منځنۍ توګه یو کیلو ګرام کاغذ د لیکلو، لوستلو او خپرولو لپاره لګوي چې ډېر ټیټ رقم دی.

روانډا د ناخالص کورني تولید او سړي سر کلني عاید له کبله د افریقا او نړۍ له وروسته پاتې هېوادونو څخه شمېرل کېږي. د دغه هېواد ۸۰ سلنه ښځې او نارینه په لیک او لوست پوهېږي. زده کړه په روانډا کې له ۷ نه تر ۱۵ کلونو د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده او هر هلک او نجلۍ په ژوند کې په منځنۍ توګه ۱۱ کاله په درس کې تېروي.

د روانډا اوسنۍ خاوره څو پېړۍ مخکې د اوسني بوروندي د هېواد په ګډون لومړی د تور پوستو لخوا او وروسته د بانتو هوتوس د اقوامو له خوا د ژوند او هستوګنې لپاره غوره شوه. په ۱۵مه پېړۍ کې توتسي په نوم قوم له ایتوپیا څخه دغه سیمې ته وکوچېد، هلته مېشت شو او ورو ورو په نورو قومونو لاسبری شو.

د ۱۹مې پېړۍ په پای کې روانډا ته د اروپایانو پام واوښت. په ۱۸۹۴ ز کال کې المان دغه سیمه ونیوه او هغه یې په ختیځه افریقا کې له خپلو نورو متصرفاتو سره یو ځای د المان ختیځه افریقا ونوموله. د لومړۍ نړیوالې جګړې په وخت کې بلجیمي پوځونه روانډا ته ننوتل. په ۱۹۴٦ ز کال یا د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې د ملګرو ملتونو ټولنې هم په روانډا او بوروندي باندې د بلجیم قیمومیت په رسمیت وپېژانده. له دې پېښو سره جوخت د روانډا د ملي خپلواکۍ غورځنګ منځته راغی او ورو ورو پیاوړی شو. په همدې کال کې د اکثریت قومي ډلې، هوتو جنګیالیو د روانډا توتسي پاچا موټاري وټاکه. له دې وروسته د هوتو او توتسي قبایلو ترمنځ داسې خونړۍ دښمني پیل شوه چې تر اوسه په لکونو خلک پکې وژل شوي او ډېر مهاجر شوي دي. نوي پاچا سمدلاسه له بلجیم څخه د خپل هېواد د بشپړې خپلواکۍ غوښتنه وکړه. روانډا او بوروندي او د هغه ګاونډي کانګو تر ۱۹٦۱ ز کال پورې د بلجیم له خوا اداره کېدل. په وروستیو کلونو کې په دې دریو هېوادونو کې د خپلواکۍ غوښتنې احساسات ډېر شول او د هوتو قوم موقتي حکومت جوړ شو او د ملګرو ملتونو د افریقایي هېوادونو او په دې لړ کې د روانډا له خپلواکۍ سره مرسته وکړه.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د روانډا نوم نشته، نو له همدې امله دغه دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

له افغانستانه تر روانډا پورې د هوا له لارې فاصله ۵٦۱۳ کیلو مترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او کیګالي ترمنځ د وخت توپیر هم دوه نیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۰ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ۵۷۳ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹٦,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - کندهار | 15:30 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د امسټردام ښار مشهور موزیمونه

ژباړه: حمیدالله حمیدي

امسټردام د هالنډ هېواد پلازمېنه ده چې په اروپا کې د سیل او چکر لپاره تر ټولو محبوب ترین ښار بلل کېږي. له دغه ښار څخه په کلني ډول څلور میلیونه سیلانیان لیدنه کوي. دغه ښار ډېر پوهنتونونه، اکاډمۍ، څېړنیزې موسسې، موزیمونه، تیاتر او نور تفریح ځایونه لري. د دغه ښار د مرکزي برخې ودانۍ په پخواني کلاسیک ډول جوړې شوې دي چې ډېر په زړه پورې جوړښت لري. د دغه ښار تاریخي ودانۍ خورا مشهورې دي چې د ښار په مرکزي برخه کې یو پر بل پسې نښتې جوړې شوې دي.

په دغه ښار کې ٦۷۵۰ ودانۍ داسې موجودې دي چې په ۱٦ او ۱۸ مو پېړیو پورې اړوندېږي. دې ټولو ودانیو ۸۰۰۰ کیلو متره ځای نیولی دی. دا ټولې ودانۍ بیا د ۱٦۰ کانالونو په وسیله تقسیم او بېلې شوې دي. په دغه ښار کې ډېر ښکلي پلونه هم تر سترگو کېږي چې نهه دانې یې د لینډۍ په څېر، خو له لرگي جوړ شوي دي چې تر ټولو مشهور یې ماجرا براگ ( اصلي پل) دی.

**۱- د ریکس موزیم (Rijksmuseum)**

دا موزیم د امسټردام تر ټولو راښکونکې او توریستي سیمه ده. د ریکس موزیم په یوه لویه ودانۍ کې په ۱۸۰۹ ز کال کې جوړ شوی دی چې لږ تر لږه ۵۰۰۰ قلمه هنري توکي او عتیقې پکې په ۲۵۰ خونو کې ساتل کېږي. دغه موزیم پر انځورگرۍ سربېره ۳۵۰۰۰ پخواني کتابونه او بېلابېلې لیکنې هم په خپل کتابون کې لري چې په کلني ډول یې ډېر کسان لیدو ته ورځي او د دغه ښار



لپاره د عوایدو یوه ستره سرچینه بلل کېږي. دغه راز په دغه موزیم کې هره ورځ، هره اونۍ او هره میاشت بېلابېلې داسې ننداريې جوړېږي چې د هالنډ کلتور او پخواني عنعنات پکې تمثیل کېږي.

**۲- د ان فرانک موزیم**

دغه موزیم د پرینسنگراخت پر (Prinsengracht) کانال جوړ شوی دی. د دغه موزیم اصلي نوم د هولو کاسټ د یوه مشهور قرباني له ژوند او نامه اخیستل شوی دی. دغه موزیم په اصل کې د ان فرانک کور دی چې کورنۍ یې د ډېر وخت لپاره د جگړې له وېرې پکې پټه شوې وه. د فرانک کورنۍ په اصل کې د المان د فرانکفورت وه چې امسټردام ته راکډه شوې وه. له جنگ وروسته د فرانک د جگړو خاطرې او کتابونه د هغه وخت د ډېرو پلورل شویو کتابونو په کتار کې راغلل. ان فرانک له جگړې دوې میاشتې وروسته د ۱۵ کلنۍ په عمر له دې دنیا ولاړ. د هغه د کور ډېری برخې لا په هماغه ډول پاتې دي. دغه کور په اصل کې د هماغه وخت د جگړو او تورو ورځو د یاداښت په توگه په خپله پخوانۍ بڼه ساتل شوی دی.

**۳- د ون گوگ موزیم**

ون گوگ د نولسمې پېړۍ تر ټولو مشهور انځور گر دی. د نوموړي انځورگري د داسې یوه تخیل ښکارندویي کوي چې ډېر کم خلک په هغه ډول انځورگري کولی شي. په کلني ډول لږ تر لږه یو نیم میلیون کسان د ون گوگ له موزیم څخه لیدنه کوي. دا ټول د ون گوگ محبوبیت او وړتیا په گوته کوي. د سیلانیانو د ورتگ له نظره دا په هالنډ کې دویم موزیم دی چې په ۱۹۷۳ ز کال کې جوړ شوی دی او تر ډېره د ون گوگ د خپل لاس پنځونکي اثار پکې ننداريې ته اېښودل شوي دي. په دغه موزیم کې ۲۰۰ نقاشۍ، ۵۰۰ طراحۍ او ۷۰۰ د ون گوگ لیکونه ساتل کېږي.

**۴- د امسټردام د ښاروالۍ موزیم**

د استدلیک (Stedelijk) یا د امسټردام د ښاروالۍ موزیم په ۱۸۹۵ ز کال کې پرانیستل شوی دی. په دغه موزیم کې ډېری انځورگرۍ د هالنډي او فرانسوي انځورگرانو دي چې په نولسمه پېړۍ کې یې ژوند کاوه. په دغه موزیم کې د مجسمو یو باغ دی چې تر ډېره د مشهورو مجسمه جوړوونکو، لکه؛ اگوسټ رودن، رنوار، مرو او کارل ویسر اثار پکې ساتل کېږي.

**۵- د امسټردام موزیم**

دغه موزیم د یتیمانو په کور کې جوړ شوی دی چې د ودانۍ د جوړېدو تاریخ یې ۱۴۱۴ ز کال ثبت شوی دی. د امسټردام موزیم بیا په د ننه کې څو سترې حوېلۍ لري. په دغه موزیم کې تر ډېره د همدغه ښار د پخواني شکل انځورگرۍ ساتل کېږي چې په لیدو سره یې لیدونکي حیرانېږي او د هغه وخت د خلکو ژوند پکې انځوروي.

**٦- د استوا د خط موزیم**

د استوا د خط موزیم په ۱۸٦۴ ز کال کې جوړ شوی دی. دغه موزیم د هغه چا لپاره ډېر په زړه پورې دی چې د هالنډ د پخوانیو مستعمرو په اړه غواړي معلومات تر لاسه کړي. دغه موزیم په غارو ته ورته سالونونو کې جوړ شوی دی. په دغه موزیم کې هغه هنري توکي او وسایل ساتل کېږي چې په استوایي سیمو او د استوا تر خط لاندې سیمو کې کارول کېدل. دغه راز په دغه موزیم کې د اسیا او شرقي سیمو د موسیقۍ کنسرتونه هم جوړېږي. د دغه موزیم د لیدو پر مهال کولی شی د انگلیسي ژبې له ژباړونکو مرسته وغواړئ.

# مشرانو جرگه: طالبان دې د سمیع الحق له وژل کېدو عبرت واخلي

مشرانو جرگه وایي چې د افغان طالبانو مشران دې د مولانا سمیع الحق له وژل کېدو پند او عبرت واخلي.

د مشرانو جرگې یو شمېر غړي وایي، مولانا سمیع الحق په پاکستان کې د نړیوالو د فشار کمولو او د افغان سولې په پروسه کې د خنډ رامنځته کېدو په پلمه، د (ای. اېس. ای) له خوا وژل شوی دی.

د دې جرگې د یکشنبې د ورځې ازاد بحث تر ډېره د مولانا سمیع الحق د وژنې پر څرنگوالي را ټول و. سناتورانو ویل، که افغان طالبان سولې ته غاړه کښېنږدي، لرې نه ده چې مشران به یې د مولانا سمیع الحق په برخلیک اخته شي.



د مشرانو جرگې دویم مرستیال اصف صدیقي وویل، طالبان باید خپله اراده بدله کړي او د سولې له بهیر سره یوځای شي.

د پاکستان د جمعیت علمای اسلام مشر مولانا سمیع الحق د جمعې په ورځ په راولپنډۍ کې په خپل کور کې د چړو په گوزارونو په مرموز ډول ووژل شو، تراوسه هم کومې ډلې او یا لوري د دغې وژنې مسوولیت په غاړه نه دی اخیستی.

د مشرانو جرگې غړي وایي چې مولانا سمیع الحق د (ای. اېس. ای) د ځینو کړیو له لوري وژل شوی، څو پر پاکستان د نړیوالو فشارونه کم کړي.

دوی وایي چې د سمیع الحق وژل کېدل به د افغانستان په جگړه او د افغان طالبانو پر چارو اغېزې وکړي.

د مشرانو جرگې دویم منشي فیصل سمیع وایي، که افغان طالبان د مولانا سمیع الحق له وژول کېدو پند وانه خلي، نو د نورو طالب مشرانو او سمیع الحق په برخلیک به اخته شي.

سیاسي کارپوهان هم وایي چې د مولانا سمیع الحق وژل کېدل به له اروایي پلوه پر افغان طالبانو خپل اغېز ولري.


# سرچینې: د سولې شورا یو پلاوی د مسکو په غونډه کې گډون کوي

حکومتي سرچینې وایي چې د افغانستان د سولې په اړه د مسکو په غونډه کې به د سولې عالي شورا پلاوی گډون وکړي.

د روسیې د حکومت په نوښت دغه غونډه ټاکل شوې وه چې د روان لمریز کال د وږي په ۱۳مه جوړه شوې وای، خو د افغان حکومت د کلک مخالفت له امله ځنډېدلې وه.

څو ورځې مخکې د روسیې د بهرنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې له افغان حکومت سره تر مشورې وروسته اوس دا غونډه د لړم په ۱۸مه په مسکو کې جوړېږي.

د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د مسکو د غونډې د څرنگوالي په اړه خبرې دوام لري او لا په دې اړه وروستۍ پرېکړه نه ده شوې.



د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت احمدي وایي، که د دولت له چوکاټه بهر څوک د مسکو په غونډه کې گډون کوي، نو دوی یې مخه نه نیسي.

احمدي زیاته کړې: «زموږ مذاکرات روان دي او پر یوې پایلې کار کوو، خو په ځانگړې توگه د غونډې د څرنگوالي په اړه هوکړې ته نه یو رسېدلي او بحث دوام لري.»

بلخوا یوې باوري حکومتي سرچینې پژواک ته ویلي چې د مسکو په غونډه کې یوازې د سولې عالي شورا یو پلاوی گډون کوي.

سرچینې زیاته کړې، ولسمشر سپارښتنه کړې چې د سولې عالي شورا مشر کریم خلیلي، د دارالانشاء رییس اکرم خپلواک، مرستیالان هر یو اقچون، حبیبه سرابي، حاجي دین محمد او د مولوي عطاء الرحمن سلیم په گډون باید یو پلاوی گډون وکړي.

سرچینه وایي چې خلیلي له هېواده بهر دی او اکرم خپلواک په یاده غونډه کې له گډون څخه ډډه کړې ده، نو قوي امکان شته چې د سولې شورا پاتې غړي گډون وکړي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند تر دې وړاندې ویلي وو چې د افغان حکومت له گډون او مالکیت پرته به د غونډې جوړېدل اغېزناک نه وي.

هغه د مسکو په غونډه کې د ځینو افغان سیاستوالو گډون ته په اشارې سره ویلي چې افغان حکومت د سیاستوالو د گډون او نه گډون په تړاو مسوولیت نه لري، هغوی پېژندل شوې څېرې دي او له همدې امله بلنه ورکړل شوې ده.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۱۴مه | د ۲۰۱۸ د نومبر پنځمه | دویم کال | ۲۷۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۱۶ | ۱۶ | ۱۹ | ۱۴ | ۲۳ |
| ▼ | ۱- | ۴ | ۴ | ۲ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵۲ | لمر ختل ۰۶:۱۶ | ماسپښین ۱۱:۳۷ | مازیګر ۰۳:۱۸ | ماښام ۰۴:۵۷ | ماخوستن ۰۶:۲۲

## نړۍ



## د سعودي بل مشهور میلیاردر خالد بن طلال هم له بنده ازاد شوی

۳


CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

## اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی UNOCHA در امور مهاجرین تصمیم دارد که در ولایت کندهار ولسوالی های ژیړی و میوند به تعداد 740 باب تشناب ها و مبرزها را اعمارنماید. انعده شرکت های ساختمانی که دارای تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند؛ لطف نموده شرطنامه را از سایت ACBAR الی تاریخ (11-11-2018) دریافت نموده و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (11-11-2018) به آدرس ذیل بسپارند:

خانه نمبر ۱۶۷۶، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.


procurement@coar.org.af


افغانان دینداره، ټولنیز او راتلونکې ته هیله من خلک دي. له همدې امله ټولې پرګنې باید په یووالي، شفقت او ورورولۍ کې ژوند وکړي. د هرات د عالمانو شورا رییس مولوي خداداد صالح وویل: "خدای 'ج' په قرانکریم کې فرمایي چې مسلمانان له یو بل سره وروڼه دي. د اسلام د لاربښوونو پر بنسټ د خپلو وروڼو تر څنګ په سوله ییز چاپیریال کې ژوند وکړئ."

## یوځای د سولې پر لور!



## همه باهم به سوی صلح!



افغانها مردم متدین، اجتماعی و امیدوار به آینده هستند. از اینرو همه اقوام باید با مهربانی، شفقت و برادری باهم زندگی کنند. مولوی خداداد صالح، رییس شورای علمای هرات گفت: "خداوند ‹ج› در قرانکریم می فرماید که مسلمانان برادر یکدیگر هستند. در کنار برادران تان در فضای صلح بر مبنای احکام اسلام، زندگی کنید."